مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورالحق ن. ځلی

۲۰۲۵/۱۱/۰۶

# فکري غلامي مه هېروئ!

څه ښه وايي:«مريۍ( غلام )تر هر چا ډېرې چيغې وهي چې زه آزاد يم».

د اوسنۍ نړۍ علمي او تکنالوژيکي پرمختګونو دا شونې کړې ده، چې بشريت تر کنټرول لاندې راشي. فکري غلامي هغه بې آوازه وژونکې دی، چې ډېری يې نښې ليدلی خو د بشپړ کنټرول کارنده وسيله ده. استعمارګر او زورور پردي خپل قربانيان (ولسونه) داسې پروګرام کوي تر څو هغسې فکر وکړي چې د همدوی په ګټه واوسي.

د فکري مريیتوب يوه مهمه ځانګړتيا دا ده چې قربانيان يې په دې نه پوهېږي چې دوی لا وختې د خپلو اربابانو لپاره په ګټه رسوونکو بېراګانو بدل شوي دي. هېره دې نه وي، چې کله استعمارګر د بېلابېلو لاملونو له امله، له يوه هېواده وتلو ته اړ شي، هغوی خپل د فکري غلامۍ نه ليدونکی جال پر خپل ځای پرېږدي. دغه جال يو سيستم دی او د سيستم ړنګول د ډېرو استعمار ځپلو ولسونو له توان څخه وتلی کار دی.

ابن خلدون په خپل شهکار «المقدمه» کې ليکي:« د تاريخ په اوږدو کې ډېرو ولسونو فزيکي ماتې خوړلې دي، خو دغه ماتې هېڅکله هم د يوه ولس د پای نښې نه دي شوي. خو کله چې يو ولس د رواني ماتې ښکار شوی دی، دغه رواني ماته بيا د ولس د پای نښه شوي ده » .

اليک شهاده د فکري غلام په اړه بيا وايي:« که چېرې ته هغوی ته اوبه ورکړې چې خپله تنده پرې ماته کړي، هغوی دغه اوبه د دې لپاره کاروي چې ځان په کې ډوب کړي. که چېرې ته هغوی ته رسۍ ورکړې تر څو له دغه رااېسار شوي بد حالت څخه راووځي، هغوی دغه رسۍ د دې لپاره کاروي چې ځانونه پرې غرغره کړي».

اليک شهاده د فکري غلام په اړه په يو بل ځای کې بيا وايي:« کله چې تاسې يوه فکري غلام ته آزادي ور وښيې، ډېره شونې ده چې هغوی راتاو شي او پر تاسو د دې لپاره بريد وکړي چې تاسو د هغوی جنت ويجاړ (مختل) کړی دی. د هغوی لپاره، آزادي ځنځيرونه او آزادوونکي (ژغورونکي) دښمنان دي».

لکه څرنګه چې پوهېږو، اوسنی مالوماتي عصر د ميډيا عصر دی. نن ورځ سياست، سانسور، جګړه، کسات اخيستنه، بې لارې کونه، د جعلي او ناسمو انګېرنو توليد او خپرونه د ميډيا په مټ کېږي. تکنالوژي پخپله ، هم د بشريت دوست او هم دښمن دی. هر ځل چې خپل کمپيوټر چالانوو او يا کومه ديجيتال آله کاروو، زمونږ عادتونه، کاري پروګرامونه، دروغ او رښتيا هر څه پوره ثبت کېږي.

دغه فکري مريي توب ولې ډېر بد دی؟ دا ځکه ډېر بد دی چې د ترلتيا او ځان کوچني ګڼلو(د حقارت عقده) رواني ستونزه راپيدا کوي. فکري مريیتوب ځکه ډېر بد دی چې ځنځيرونه يې نه ښکاري، خو نسل په نسل لېږدول کېږي او سړی نه پوهېږي چې همدی يې قرباني دی. فکري مريي توب ځکه بد دی چې غلام تل ګډوډ فکري حالت لري، خپل ارزښت او حقيقي ګټې نه پېژني او تل د بل پر پاټي شوني شخوند وهي.

د يوه ولس لپاره د فزيکي مريي توب، له ټولو دلی شوو ټولنيزو او اقتصادي ستونزو څخه وتل ډېر سخت کار نه دی. په فکري مريي توب کې بدې دا ده چې د آزادۍ (نجات) او مريي توب ترمنځ توپير يو له بل سره تاو شوی يا رانغاړل شوی دی. دا داسې يو حالت دی چې انسان د ځان او نړۍ په هکله د ناسمو او اړول شوو مالوماتو له کبله رااېسارېږي.

په دغه حالت کې سړی دا ادعا کولی شي چې پوهېږي او هر څه ته يې پام دی. ځکه کتابونه لولي او له رسنيو سره بوخت دی. خو دا انسان دا فکر نشي کولی چې د ده پوهه (اګاهي) ترلې (مشروط) ده. په بله وينا د ده فکري توان لا وختې چوکاټ شوی دی.

نن ورځ د لوړو زده کړو درلودونکي ډېری کسان نه پوهېږي چې څرنګه د تبليغاتو، ټولنيزې ارواپوهنې او د انساني سلوک پېژندنې په مټ د انسانانو فکرونه قالب کېږي او هغسې ښه ورکول کېږي لکه څرنګه چې پلان شوي ده.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

آیا کله مو له ځانه دا پوښتنه کړی ده چي دا سوداګریز اعلانونه ولي همدا یو کلیپ او یا انځور بیا بیا اعلانوي؟ د دې علت « تکرار» دی. مونږ د تکراري پیغامونو په چاپېریال کي ژوند کوو. هر څومره ډېر چي یو څه تکرار شي، که هغه ناسم هم وي خلک یې سم ګڼي. دغه تکراري پیغامونه زمونږ فکري فضا (اتموسفیر) خړوبوي ( تر بسو یې مړوي). کله چي مونږ همدا تکراري پیغامونه اورو، په پای کي زمونږ نیم سدي ( نیم حاله یا ناخود آګاه ) فکر یې جذبوي. په بله وینا زمونږ فکر د تکراري پیغامونو(نظرونو) په فضا کي ډوب کېږي او عادت اخلي. وروسته همدغه زمونږ فکرونو ته رالېږول شوي څه، زمونږ د فکرونو، غوښتنو، نظرونو اصلي سرچینې جوړوي.

آیا بل څوک له فکري غلام سره مرسته کولی شي چي له فکري مریي توب څخه یې راوباسي ؟ نه، هېڅکله هم نه. هغه څوک چي خپل فکر ته پراختیا نشي ورکولی او یا یې نشي کارولی، مجبور دی چي د بل غلام شي. لنډه دا چي له فکري مریي توب څخه یوازې پخپله ځان خلاصولی شو، بل هېڅوک مرسته نشي کولی.

په درد سره، موږ افغانان باید دا ومنو چي پردیو دا څلور لسیزې زمونږ لپاره د فکري مریي توب جال خپور کړی دی. د وروستیو څلورو لسیزو پرله پسي اشغالونو، بهرنیو لاسوهنو، جګړو او د کډوالۍ ژوند ناخوالو دې ته لاره هواره کړه، چي زموږ یو شمېر هېوادوال د فکري مریي توب قربانیان شي.

په هر حال، راځئ لومړی په دې هم ځان پوه کړو چي دا فکري مریي توب څوک په نښه کوي؟ د دې پوښتني لنډ ځواب دا دی چي هر څوک، خو په تېره بیا زده کړیالان، زده کوونکي، روښانفکران، ښوونکي، پوهان او د ټولني پوه قشر په نښه کوي.

دا سمه ده چي که نن ورځ خپل ټولنیز چاپېریال ته ځیر شو، د فکري غلامۍ ډېر بې خونده انځورونه مو تر سترګو کېږي. کله چي یو ولس څلوېښت کاله د پردیو خبرې واوري او په داسي تبلیغاتي چاپېریال کي واوسېږي چي د دښمن زهرجنو تبلیغاتو لړلی وي، د فکري غلامۍ همداسي وضعیت منځته راځي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ